# یونیورسل کریډیټ

یونیورسل کریډیټ یو میاشتنی تادیه ده چې د هغو خلکو لپاره د ژوند لګښتونه برابروی چې لږ عاید لري، کار نه لري یا د کار کولو توان نلري.

## د یونیورسل کریډیټ مطالبه کولو لپاره د وړتیا شرطونه

- تاسو باید په انګلستان کې ژوند وکړئ
- تاسو باید یو بالغ (عمر 18 یا پورته) او عمر دی د دولتي تقاعد څخه کم وي (تفصیلات به لاندی ویب پانه[1] که ده)
- ستاسو پیسي، سپما او پانګه چې ارزښت یې د 16,000 پونډ څخه کم باید وي
- که تاسو د خپل ملګري (همسر) سره ژوند کوئ، تاسو باید د دواړو په استازیتوب یوه ګډه مطالبه وکړئ، حتی که ستاسو ملګری د یونیورسل کریډیټ لپاره وړ نه وي. د یونیورسل کریډیټ مقدار چې تاسو یې ترلاسه کوئ ستاسو او ستاسو د ملګري هم عاید اورهم سپما پوري اړه لري.
  - که تاسو د خپل ملګري سره ژوند کوئ او ستاسو څخه یو یې د دولتي تقاعد عمر ته رسیدلی وي، تاسو به بیا هم د یو جوړه په توګه د یونیورسل کریډیټ مطالبه وکړئ، مګر تاسو نشئ کولاې د یونیورسل کریډیټ او د تقاعد کریډیټ دواړه مطالبه وکړئ.
- که تاسو د بشپړ وخت زده کړې کې یاست، تاسو کولای شئ چې د یونیورسل کریډیټ مطالبه وکړئ ، مګر یوازې په هغه صورت کې چې د لاندي څخه یو حالت ستاسو په وضعیت کې پلي شي:
  - تاسو د یو وړ ملګري سره ژوند کوئ
  - تاسو د یوی ماشوم سرپرستي کوئ
  - تاسو 21 یا کم عمر لرئ، په ښوونځي کې شامل شوي یاست او د والدینو ملاتړ نلرئ
  - تاسو یو داسې کورس وایاست چې هغه لپاره د زده کونکي پور یا مالی مرسته شتون نلري

## د یونیورسل کریډیټ اندازه ټاکل معیارونه

د یونیورسل کریډیټ مقدار چې تاسو به یې ترلاسه کوئ ستاسو عاید او هر ډول عایداتو پورې اړه لري. د یونیورسل کریډیټ معیاري تخصیصونه ستاسو د عمر او د هغه خلکو شمیر پورې اړه لري چې تاسو یې مسؤل یاست. د دې تخصیصونو لیست به لاندی ویب پانه[2] که موندل کیدای شي. که چیرې لاندې حالتونه څخه یو یې ستاسو په وضعیت کې پلي شي، تاسو به اضافي پیسي ترلاسه کړئ:

- تاسو د یو یا ډیرو ماشومانو سرپرستي کوئ. دا اندازه د دویم ماشوم وروسته محدوده ده، مګر دا چې ستاسو ماشومان په ۶ اپریل ۲۰۱۷ یا مخکې زیږیدلي وي.
- تاسو د یو معیوب ماشوم یا بالغ لپاره پالونکی یاست.
- تاسو معلول یاست.
- که تاسو کار کوئ، تاسو کولای شئ چې یونیورسل کریډیټ ترلاسه کړئ ترڅو ستاسو د ماشوم پاملرني لګښتونه 85% پوښښ کړئ.

که چیرې ستاسو عاید، سپما یا پانګه اچونه د حد څخه پورته وي، یا تاسو د یوټیلټي بیلونو، د شورا مالیه (کونسل ټکس) یا نورو لګښتونو لپاره مقروض وئ، ستاسو د یونیورسل کریډیټ تادیات کیدای شي چې کم شي.

- ستاسو د یونیورسل کریډیټ تادیه به د هر 1 پونډ لپاره 55 پنس کمه شي چې تاسو یا ستاسو ملګري یې ترلاسه کوي. د ځانګړو مقدارونو په اړه نور معلومات به لاندی ویب پانه[3] کې موندل کیدای شي.
- که تاسو دومره عاید ترلاسه کول پیل کړئ چې تاسو نور د یونیورسل کریډیټ لپاره وړ نه وي، مخکې لدې چې ستاسو تادیات ودرول شي، تاسو ته به خبرتیا درکول کیږی. که وروسته ستاسو عاید کم شي، تاسو کولای شئ بیا د یونیورسل

[1] Check your State Pension age - GOV.UK (www.gov.uk)
[2] Universal Credit: What you'll get - GOV.UK (www.gov.uk)
[3] Universal Credit: How your earnings affect your payments - GOV.UK (www.gov.uk)

کریډیټ لپاره وړ شئ. د دې پورې اړه لري چې ستاسو د یونیورسل کریډیټ بند کېدلو څخه څومره وخت تېره شوی دی، تاسو ممکن د دې لپاره بیا غوښتنه وکړئ.

### د تادیاتو معلومات

یونیورسل کریډیټ په میاشت کې یو ځل ستاسو بانکي حساب ته تادیه کیږي. دا معمولا د هغې ورځې څخه شاوخوا پنځه اونۍ وخت نیسي چې تاسو د خپل لومړي تادیې پروسس کولو لپاره د نوي یونیورسل کریډیټ مطالبه وکړئ. که تاسو او ستاسو ملګری دواړه د یونیورسل کریډیټ مطالبه وکړئ، تاسو به د هرې کورنۍ یوه میاشتنۍ تادیه ترلاسه کړئ. که تاسو د یوې میاشتنۍ تادیې اداره کولو توان نلرئ، تاسو کولی شئ **د تادیې بدیل ترتیب** غوښتنه وکړئ. دا معمولا یوازې هغه خلکو ته ورکول کیږي چې د رواني روغتیایي مسالو سره مخ دي، د زده کړې ستونزې لري یا روږدي دي، یا هغه کسان چې د بې کورتوب یا کورني ناوړه ګټه اخیستنې تجربه لري. د تادیې بدیل ترتیب لاندې، تاسو کولای شئ منظم تادیاتو ترلاسه کړئ یا تادیات بل چا ته ولیږې (پدې کې یو ملګرئ یا د کور مالک شامل کیدای شي).

### مطالبه کول

د یونیورسل کریډیټ مطالبه کولو لپاره، تاسو باید آنلاین حساب جوړ کړئ او د خپل حساب د جوړولو په 28 ورځو کې دننه به د لاندی ویب پانه[4] استفادی سره غوښتنه وکړئ. که تاسو د یو ملګري سره یو ځای مطالبه کوئ، تاسو به دواړه اړتیا ولرئ چې جلا جلا حسابونه جوړ کړئ او بیا ګډه مطالبه وکړئ.

تاسو به د یونیورسل کریډیټ لپاره د مطالبه کولو په وخت کې ځینې معلومات او ملاتړ کونکو اسنادو چمتو کولو ته اړتیا ولرئ. مخکې له دې چې تاسو غوښتنه وکړئ، تاسو باید لاندنی مواردو باندې پوه شئ:

- ستاسو د بانکي حساب جزییات
- تاسو څومره کرایه ورکوئ.
- ستاسو عاید، او کوم سپما یا پانګه چې تاسو یې لرئ (لکه ونډې)، یا هغه ملکیت چې تاسو نورو ته په کرایه ورکوئ).
- د هر ډول معلولیت یا روغتیایي حالت جزییات چې ستاسو په کار اغیزه لري.
- تاسو د ماشوم پاملرنې لپاره څومره پیسې ورکوئ، که د تطبیق وړ وي.

تاسو لازمه ده چې لږترلږه یو سند چمتو کړئ چې ستاسو هویت ثابت کړي. دا اسناد کېدای شي پدې کې شامل وي:

- پاسپورټ
- د انګلستان د موټر چلولو جواز(لایسنس)
- ډیبیټ یا کریډیټ کارت.
- وروستي تادیات یا د بانک صورت حساب

تاسو لپاره لازمه نده چې ټول پورتني موارد برابر کړئ.

د غوښتنه کولو لپاره، تاسو به یو بانکي حساب، بریښنالیک آدرس او تلیفون ته لاسرسی ته اړتیا ولرئ. که تاسو دوی ونلرئ، تاسو کولای شئ د یونیورسل کریډیټ مرستي لاین ته زنګ ووهئ یا د کار موندنې مرکز ته لاړ شئ. د یونیورسل کریډیټ مرستي لاین ته زنګونه وړیا دي او د دوشنبې څخه جمعه د سهار له 8 بجو څخه تر 6 بجو پورې کیدی شي. د ډایل کولو لپاره شمیره 0800 328 5644 ده.

● تاسو کولای شئ د مرستي مطالبه کولو خدمت هم وکاروئ چې د اتباعو مشورې ګروپ (سیټی زن ادوایس) لخوا چمتو شوې ده، چې د لاندی ویب پانه[5] موندلی شئ. دا یو وړیا خدمت ده چې د خلکو ملاتړ کوي ترڅو د یونیورسل کریډیټ لپاره آنلاین غوښتنلیکونه جوړ کړي.

که تاسو نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، تاسو کولی شئ د 447360861633 + واتس اپ شمیره او یا Afghanistan@uspuk.org بریښنالیک ته پیغام پریږدئ.[6]

[4] [Universal Credit online - Universal Credit (universal-credit.service.gov.uk)](universal-credit.service.gov.uk)

[5] Contact us about a Universal Credit application - Citizens Advice

دا معلومات د جون په 15 چمتو شوی ده.

دا معلوماتی پانی یوازې د معلوماتو لپاره چمتو شوی ده او کوم تخنیکی مشوره نه ده. که تاسو په دی اړه اړتیا لرئ یا چی کومه پریکړه کوی، تاسو کولی شئ د چارواکو سره اړیکه ونیسئ.